مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۱/۰۲

# له لوی ډز ښخه تر لویې چاودنې

ما به لیکلي وای،

چې:

ته

-زما لپاره–

د نړۍ تر ټولو ښکلي نجلۍ...

خو،

نه!

څه فایده؟

تر چاودنې روسته به هیڅوک نه وي، چې دا کرښې ولولي...

تر لویې چاودنې روسته، ښایي څه مورګ یا چینجي

د زمکې په پټو تلخونو یا سمڅو کې ژوندي وپایي

یا به څو میلیونه کاله روسته

بیا

هایدروجن، اکسیجن...

لومړني مرخیري

ښایي بل ځل هم بنیادمانو ته ورته څه شیان پر زمکه ژوند پیل کړي

خو،

د هغوی به موږ نه یو په یاد

ښایي، هغوی به نورې ژبې وایي

د باد

یا مرغیو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

يا د اوراورکيو د وزرو ژبه.

هغوی به جګړه نه کوي

هغوی به نه (پوتين) لري،

نه (بايډن).

بختور به وي

خو هی افسوس

ها

نوي خلک به هېڅ نه شي خبر،

"چي ته څومره ښايسته وې"!

ما وېل زه به دا وليکم،

چې هېڅ جنت

ستا د ښکلولو بوی نه لري.

تر لويې چاودني هاخوا،

کله چې څو ميليونه کاله روسته

بنيادمانو ته ورته څه شيان پر دغي زمکې باندې بيا ژوندي شي

ډېر بختور به وي او ژوند به يې له سولې ډک وي

(اټوم) به نه پېژني

هېڅ پاتي شوې کتيبه کې به کوم توری د لوستلو نه وي:

(کلاشينکوف)،

ام شپږ(M6)،

(آی. اس. آی)...

د هاغي نوې زماني خلک به څومره بختور وي،

له جګړو به خلاص وي

جهاد به نه پېژني

او

د باران و پاڼو

له موسيقی څخه به خوند اخلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

او

په ویاله کې د روانو اوبو

نغمه به هم لکه نڅا د ګونګرو پاکه او حلاله ګڼي.

دوی به نېکمرغه وي،

خو،

های افسوس!

هغوی به نه شي لوستی

چې یو شاعر به ستا د شونډو له خوږو ښخه تر کومو اسمانونو الوت

ما غوښتل دا ولیکم...

خو ومې نه لیکل،

قلم مې کېښود.

لویه چاودنه راروانه ده،

سبا،

بل سبا

دونیا روستی سلګی ته هېښه ناسته.

ارمان ـ ارمان

که دوی خبر وای،

چې ته زما له سترګو

-د دې دونیا تر ټولو ښکلي نجلی–

ځومره خوږه،

ځنګه له پوخې پسته

او له سوسنه سپینه

پر خپل شاعر وې،

لیونی مینه!

نو،

دا چاودنه به یې نه وای کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ